مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۵/۲۴

# غزل

## تېر وختونه له ياده دي وتلي

دا استازی د ملت او کـه قصاب دی؟

پارلمان نه يي جوړ کړی سم پنجاب دی

تـېر وختـونه يـې لـه ياده دي وتلي

که نصيب ورته ليکلی بيا کولاب دی

پـه نـشه د سـرو شـرابـو ليـونی دی

دين يي پريښود ځي روان مخ په سراب دی

د حق شور په خاموشي بدلوی نه شي

اي نـادانـه وخت راغلی د حساب دی

اوس افغان دی راویښ شوی، ځان ترې ساته

وخت بدل دی بیدار شوی په شتاب دی

پسرلي باندې څوک زور منلی نه شي

اوس جوړشوی ورنه سترڅپاند سیلاب دی

** * **

یادونه: که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!